# تکراري پوښتل شوې پوښتنې د ماشومانو پاملرنې وبا EBT (P-EBT)

د 2022-2023 ښوونیز کال *(د 2023 د مارچ 31مه)*

---

**1 پوښتنه: د ماشومانو P-EBT پاملرنه څه شی ده؟**

ځواب: دا د خوراکي توکو لنډمهاله ګټه ده چې د فدرالي حکومت لخوا تایید شوې تر څو د کوویډ-19 وبا په بهیر کې له هغو کورنیو سره مرسته وکړي چې تر 6 کلونو څخه کم عمره ماشومان لري.

---

**2 پوښتنه: څوک د ماشومانو P-EBT پاملرنې پر شرایطو برابر دي؟**

ځواب: د Vermont هغه تر شپږو کلونو کم عمره ماشومانو لرونکې کورنۍ چې د 3SquaresVT ګټې ترلاسه کوي. د ماشومانو P-EBT پاملرنې ګټې به د هرې میاشتې لپاره چې د 2022 له سپتمبر څخه پیل د 2023 د مې تر 11مې پورې دوام مومي، پر شرایطو برابرو کورنیو ته صادرې شي. د ماشومانو P-EBT پاملرنې ګټې د مې میاشتې په 11مه نېټه د فدرالي عامې روغتیا بیړني حالت د پای ته رسیدو له امله پای ته رسیږي.

---

**3 پوښتنه: د ماشومانو P-EBT پاملرنې ګټه څومره ده؟**

ځواب: د ماشومانو P-EBT پاملرنې ګټه د 2022 له سپتمبر څخه د 2023 تر جنورۍ پورې په هره میاشت کې $ 34.79 ده. له فبرورۍ څخه د مې تر 11مې بیه تر اوسه نه ده محاسبه شوې. د مې میاشتې د ماشومانو د پاملرنې بیه له مخکې ټاکل شوې بیه وي، ځکه چې ګټې د میاشتې په نیمايي کې پای ته رسي.

---

**4 پوښتنه: آیا د اوړي په موسم کې د ماشومانو P-EBT پاملرنې ګټه شته ده؟**

ځواب: دا چې د فدرالي عامې روغتیا بیړنی حالت د مې میاشتې په 11مه نېټه پای ته رسي، نو په اوړي کې به د ماشومانو P-EBT پاملرنې ګټه نشته ده. فدرالي قانون Vermont ته اجازه نه ورکوي چې د اوړي د ماشومانو P-EBT پاملرنې ګټه هغه مهال صادره کړي چې د عامې روغتیا بیړنی حالت پای ته رسیدلی وي.

---

**5 پوښتنه: د ماشوم P-EBT پاملرنې ګټې به څه وخت صادرې شي؟**

ځواب: د ګټو لومړی پړاو (د 2022 له سپتمبر څخه د 2023 د جنورۍ لپاره) به د 2023 د اپریل په وروستیو کې صادر شي. هغه ماشومان چې د ماشومانو P-EBT پاملرنې د ګټې پر شرایطو برابر دي، د هرې هغې میاشتې لپاره چې کورنۍ د 3SquaresVT ګټې پکې ترلاسه کړې، له سپتمبر څخه تر جنورۍ پورې میاشتو لپاره د ګټې یوه اداینه ترلاسه کوي.

له فبرورۍ څخه د مې تر 11مې ګټې پلان کیږي چې د اګست په وروستیو کې صادرې شي.

---

**6 پوښتنه. زه څنګه معلومه کړم چې زما کورنۍ په شرایطو برابره ده.**

ځواب: د اقتصادي خدمتونو دیپارټمنټ (ESD) به دا معلومه کړي چې آیا ستاسو ماشوم د پورته معیارونو پر بنسټ پر شرایطو برابر دی او که نه. که تاسو پر شرایطو برابر یاست، نو له ESD څخه به یو لیک ترلاسه کړئ چې دا خبره تشریح کوي چې څنګه او څه وخت به ګټه ترلاسه کړئ.

---

**7 پوښتنه: که موږ پر شرایطو برابر یو، نو دغه ګټې به څه ډول ترلاسه کړو؟**

P-EBT ځواب :د ماشومانو د پاملرنې ګټې په هغه EBT کارت کې صادریږي چې ستاسو کورنۍ لپاره ستاسو د 3SquaresVT ګټې لپاره صادر شوی.

---

**8 پوښتنه: زما د زده کوونکي ساتنه د دوو کورنیو ترمنځ ویشل شوې ده.  مرستې څوک ترلاسه کوئ؟**

ځواب: ګټه به هغه لوی کس ته واستول شي چې د ESD لخوا د 3SquaresVT د کورنۍ مشر په توګه لیست شوي.

---

**9 پوښتنه: زه د دغه ګټې په وسیله څه شی پیرودلی شم؟**

ځواب: پر شرایطو د برابرو خوراکي توکو لیست د USDA په ویبپاڼه کې وګورئ.

---

**10 پوښتنه: خپل EBT کارت چیرته کارولی شم؟**

ځواب: تاسو یې د خواړو پیرودلو لپاره په هر هغه ځای کارولی شئ چې 3SquaresVT مني. په دې کې د خوراکي شیانو پلورنځي، سوپر مارکیټونه، د اسانتیا پلورنځي او په Vermont کې د ډیری کروندګرو بازارونه شامل دي. د DCF په EBT ویبپاڼهکې لا نور څه زده کړئ.

---

**11 پوښتنه: زه د ماشومانو تر پاملرنې لاندې ماشومان نه لرم.  ایا زه دا مرسته ترلاسه کولی شم؟**

ځواب: هو ټول هغه ماشومان چې عمرونه یې تر شپږو کلونو کم وي او هغوی چې 3SquaresVT ترلاسه کوي، پر شرایطو برابر دي.

---

**12 پوښتنه: زه نور داسې ماشومان لرم چې عمرونه یې تر شپږو کلونو زیات دي.  ایا دوی د ماشوم P-EBT پاملرنې د ګټې پر شرایطو برابر دي؟**

ځواب: نه ګټه یوازې د هغو ماشومانو لپاره شه ده چې 3SquaresVT ترلاسه کوي او تر شپږو کلونو کم عمر لري.  په مهربانۍ سره د ښوونځي د P-EBT تکراري پوښتل شوې پوښتنې د ښوونځي پر عمر ماشومانو لپاره د شته ګټو په اړه د نورو معلوماتو په پار وګورئ.

---

**13 پوښتنه: که دغه ګټه نه غواړم، څه وکړم؟**

ځواب: ګډون رضاکارانه دی. که تاسو ګډون نه کول انتخابوئ، نو ستاسو د 3SquaresVT په EBT کارت کې صادرې شوې اضافي ګټې مه کاروئ.

---

**14 پوښتنه: ایا د P-EBT ګټې به پای ته ورسیږي، که مصرف نه شي؟**

ځواب: هو د P-EBT ګټې به پای ته ورسي که کارت په 274 ورځو کې ونه کارول شي.

---

**15 پوښتنه: زه نورې پوښتنې لرم.  چیرته زه نور زده کړم؟**

ځواب: https://dcf.vermont.gov/esd/P-EBT ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ یا د 6151 -479-800-1 شمیرې ته زنګ ووهئ او د لا زیاتو معلوماتو لپاره 7 غوراوی کیکاږئ.

VERMONT
AGENCY OF HUMAN SERVICES
DEPARTMENT FOR CHILDREN & FAMILIES

VERMONT
AGENCY OF EDUCATION